مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نویسنده: ن . جلیل زاد

۲۰۲۶/۰۵/۱۵

# د تاریخ په اوږدو کی

[“یو غر را ونړیده”]
“یو غر را ونړیده”
“هغه دنګ غر، “
••••••••••••••••••••••••
چې لکه دخوشحال له غرور نه،
پاس آسمان ته یی لاس غزولی وو
نه د ستوریو لپاره،
بلکې د تقدیر د تناکو
د چپ وهلو لپاره.
غر، چې هره ډبره‌یي
د تاریخ تکیه وه،
غر، چې د هرې سپرې
پټکی د لونو عزت و،
غر، چې د هرې ونې سیوری
د قام د شمله کیسه وه.
خو غر ونړیده!
نه زلزله وه،
نه توپان،
نه هم د آسمان خشم
یو خاموشه سقوط،
لکه د بیدل په خیال کی
د معنی ناڅاپي غرقېدل.
یوه چیغه راووته
له داغداره درزونو،
لکه د فردوسي په خولې کی
د سهراب د مرګ چیغه.
یو تور لړم،
له سینی‌یی راوتښتېد،
او د غر د ړنګېدو په دوړو کی
یوه سروټه، یوه چیغه،
او یوه خوله د دعا پټه شوه...
او بیا یو آس ولوېد،
هغه سپین آس،
چې قدم‌یی لمر راویښاوه،
چې بادونه‌یی زمزمه کول،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

چې جګ میدان ته به
د تورې نغمه وړه
سپین آس ولوېد!
نه زخمي،
نه مړ،
خو شملېی
له خاورو ډکې وې،
سترګېی
د ناپېژندل شوی تقدیر له کنډوالو ډکې.
سپین آس ولوېد،
او د پښو لاندېیی
د تاریخ وروستې سرود
غلی شو
لکه یو لهجه،
چې د شملې او شرم ترمنځ
ناورین ته تسلیم شي.
او بیا
یو زلمی، له تورو خړو راپاڅېد،
لاسېی د آس د یال نیولی و،
او چیغهیی وکړه:
زه د دې رنګ غر بچی یم!
زه هغه چیغه یم،
چې د پلار له شملې نه
لا لوړ غړیږی
او ځمکه یې،
چې تر پښو لاندېیې لړزله،
سکوت ته غاړه کښېښووه
لکه چې تاریخ
د یوه نوي قیام
نوم یادوي.
غر ونړیده،
آس ولوېد،
خو زوی راپاڅېد!
او دا د قوم کیسه ده،
چې تل د رنګېدو له ختو
بلې جګې ته لویږي،
لکه د بیدل خیال،
چې له هره خموشۍ
یو کاینات راژوندی کوي...
هو
غر ونړېد ، و خو لا هم پورته دی
یو غر ونړېد،
خو نه لکه رنګېدونکې ودانی،
نه لکه خاورین دیوال
چې د باران پر مخ تښتی
بلکې لکه غرور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې له تنديې خاځي،
او د تاريخ په ګريوان کې
په سلګو بدلېږي.
غر ونړېد
هغه دنګ غر،
چې د آسمان له وريښمو سره
يې سر اشنا و،
چې له ستوريو سرهيې
پټه مينه درلوده،
چې هره ډبرهيې،
د يوې حماسې ټپه وه،
او هره ونې‌يې
په بيدار خوب کې
د ازادۍ نغمه سندروله.
خو اوس خاموشه شو
لکه د بيدل يو نيمګړى خيال،
لکه د ماشوخيل يوه شپه‌ييزه چيغه
چې تر ستوري رسېږي
خو تر سبا نه‌رسېږي.
غر، لکه يو ناڅالوم زړه،
په ځان کې ونړېد.
يو سپين آس ولوېد،
هغه سپين آس
چې د لمبو له زنګ سره زېږېدلی و،
چې له هر ګامه‌يې
د باد نغمه راټوکېده،
او هر ځل چې يې پښه کېښوده،
خاوره به د طلا په شان ځليده.
خو ولوېد...
په خاورو کې،
په دوړو کې،
په نيمګړو کيسو کې،
په سترې کوڅو کې،
هلته چې نور
يوازې چمبه پاتې ده،
او هير شوې چيغې.
سپين آس،
نه مړ،
نه ژوندی،
يوازې چپه شوی
لکه يو خوب
چې د تندر په شور
راويښ شي
او بيا بېرته
سترګو ته نه‌راځي.
خو... له دوړو را ووت يو سيوری،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یو ځوان،
چې په سترګو کې یې د خوشحال غرور و،
او په تټر کې یې
د زر کلنو چيغو اور بل و.
لاس یې
د آس یال ته اوږد شو،
او چيغه یې وکړه:
زه د دې رنګ غر بچې یم،
زه د هغو نغمو تسلسل یم
چې د اسمان له چینه یې څښلي،
زه هغه زنګ یم
چې له ماتې نه ويرېږي نه،
زه د فردوسي د داستان
هغې بلې څپې ته ولاړ انتظار یم!
او شپه،
لکه یوه نجلۍ
چې د زلمی له نومه سره بلدتیا لري،
په چوپتیا کې موسک شوه.
ځمکه،
لکه مور،
چې د زوی غږ وپيژني،
سکوت ته تسليم شوه.
او آسمان،
لکه یو زوړ کتاب،
بیا پرانستل شو...
یو غر نرېد،
یو آس ولوېد،
خو یو غږ،
یو قيام،
یو نوم
له خاورو پورته شو!
دا د قوم حماسه ده
هر ځل چې رنګ شي،
بل ځل پورته شی
لکه د شمله،
چې که هر څومره ولوېږي،
بیا هم
د غرونو پر سر ولاړه وي...

**آرشيف: مطالب نشر شدهٔ ن. جليل زاد**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ